Balkh International Journal of Social Science

ISSN – P 0000 -0000 E: 0000- 0000
Vol.1 NO.2 2025
URL: https://bjss.ba.edu.af/index.php/bjss

# د خوشحال خان خټک د شعرونو اروايي شننه

# Psychological Dimensions of Khushal Khan Khattak's Poetry

**AUTHOR:**Baryalay Saqeb[1]

Assistant ProfessorFaculty,Department of Pashto, Faculty of Languages and Literrature, Balkh University, Mazar-e-Sharif,Afghanistan.

**Received: 23/2/2026 Accepted: 7/6/2026 Published: 29/7/2026**

## ABSTRACT

Khushal khan khattak is a prominent figure in Pashto literature whose literary and intellectual influence extends beyond poetry to broader cultural and philosophical domains. His works reflect deep engagement with human emotions, psychological states, and intellectual thought. This article examines khushal khan khattak's poetry through selected European psychological and literary theories in order to explore its intellectual and emotional dimensions. Adopting a descriptive and analytical methodology, the study analyzes key poetic themes related to human psychology, inner conflict, and emotional experience. Rather than imposing European theoretical frameworks, the article demonstrates how certain aspects of khushal khan khattak's poetry can be meaningfully interpreted through these perspectives. The findings reveal that his poetry contains profound psychological insights and intellectual depth, highlighting its continued relevance to contemporary human life.

***Keywords***: Emotion,Khushalkhankhattak.Psychology,Perception,Thought

[1.]Email: saqebbaryalay@gmail.com
Orcid iD: 0009-0005-8833-4244

**لنډیز**
خوشحال خټک د پښتو ژبې، ادب او فرهنګ هغه لوړ شخصیت دی، چې د ژوند په ډېرو اړخونو مسلط، پوی او غږېدلی دی. د ده علمیت او پوهه په یوه برخه کې را ایساره نه وه، بلکې دی د ژوند بېلابېلو خواوو ته متوجه شوی او په هغه برخه کې یې د خپل فکر نیلی غزولی دی. دغه علمي او څېړنیزه مقاله د خوشحال خان خټک د شعرونو د اروایي شننې تر عنوان لاندې لیکل شوې ده، چې د اروا پوهنې پېژندنه، د نامتو اروا‌پوهانو نظریې، چې د اروا‌پوهنې په تړاو یې څرګندې کړې دي او هم د خوشحال خټک د هغو شعرونو تحلیل او شننه شوې ده چې د ننني اروا‌پوهنې سره ربط او اړخ لګوي. مقاله پر همدغو موضوعاتوباندې بحث کوي، د څېړنې موخه دا ده چې موږ ته به ښکاره او ثابته شي چې د خوشحال خان په فکر اومفکوره کې د ژوند د نورو اړخونو څخه علاوه اروا‌پوهنیزه برخه هم شته او کله چې موږ په دغه برخه کې معلوماتو ته اړتیا ولرو؛ نو د خوشحال خټک په شعرونو کې یې مومو، چې دا موارد د څېړونکو لپاره د بحث او مطالعې وړ ګرځي. دا یوه کتابتوني، تشریحي او تحلیلي څېړنه ده، چې د دې مقالې په لیکنه کې له غوره علمي آثارو څخه استفاده شوې ده. په لنډ دول باید ووایم، چې اروا‌پوهنه د بشر په ژوند کې حیاتي او مهم ارزښت لري. خوشحال خټک هم د اروا‌پوهنې په اهمیت پوی و او په خپلو شعرونو کې یې دغه برخه راخیستې ده.

**کلیدي کلمې:** احساس، اروا‌پوهنه، خوشحال خان خټک، درک، فکر،

## ۱.سریزه

**اَلْحَمْدُ لله رَبِّ العَالَمِينَ وَالصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلى سَيدِالْمُرْسَلِينَ وَعَلَى اَلِه وَصَحْبِهِ اَجْمَعِينَ.**

اروا‌پوهنه یا هم روانشناسي هغه علم دی، چې د انسان د ذهن، کړه وړه، چلند او د احساساتو مطالعه تر څېړنې او بحث لاندې نیسي. خوشحال خان خټک د پښتو ادب هغه نوموتی عالم، شاعر، لیکوال او څو بعدي شخصیت دی، چې د نورو علومو تر څنګ د ده په فکر او شعرونو کې اروایي برخه هم شته او په همدې څېړنیزه مقاله کې هغه بیتونه او اشعار تحلیل او شنل شوي، چې له روانشناسۍ سره تړاو لري. اروا‌پوهان شخصیت دانسان په درېیو ځانګړتیاوو کې څېړي، مزاج، خوی او استعداد (ساپی، ۱۳۸۵: ۲۸۰ مخ). د خوشحال خان خټک د اروا‌پوهنې برخه د ډېرو مشهورو اروا‌پوهانو یا روانشناسانو سره مشابهت او مطابقت لري، د بېلګې په ډول د ده فکر او مفکوره د اروا‌پوهنې په برخه کې د زیګمینډ فروید سره ورته والی لري، دا ډول د عمومي رواشناسۍ سره، چې په ورځني ژوند کې کارول کېږي هم اړخ لګوي. دا خبره په څرګند ډول سره باید وشي، چې که خوشحال خان خټک د اروا‌پوهنې د برخې عالم او متخصص نه و؛ نو د همدې علم په تړاو یې په خپلو شعرونو کې ډېر ځله یې ورته اشاره کړې او څرکونه یې په بیتونو کې ښکاره او څرګند دي.اروا‌پوهنه تر ډېره د انساني ژوند دستونزو د حل لپاره کارول شوې او د داسې مهارتونو د ترلاسه کولو لپاره اروا‌پوه مطالعې، تمرین او ځانګړنې تجربې ته اړتیا لري (احمدیار، ۱۳۹۴: ۸مخ).

هره علمي او تحقيقي مقاله، چې ليکل کېږي يا هم يوه څېړنه تر سره کېږي طبعيي ده، چې هم به له ستونزو څخه خالي نه وي اوهم به ورته د څېړنې په اوږدو کې خنډونه او ستونزې پرتې وي. د دې علمي مقالې په ليکلو کې زه هم له ځينو وړو ستونزو سره مخ شوی وم، چې يو هم د ارواپوهنې د علمي او معتبرو سرچينو نشتوالی په ځانګړي ډول په پښتو ژبه کې د دې علم د کتابونو کمښت وو؛ خو بيا هم زما لپاره د خوښۍ ځای دی، چې پورتنۍ ستونزې مې د ډېرو هڅو په نتيجه کې حل او هوارې کړې او دغه څېړنيزه مقاله د لومړي لاس موادو او ماخذونه څخه په استفادې سره بشپړه او سرته ورسېده. د دې مقالې مېتود او کړنلاره تشرېحي، تحليلي او کتابتوني ده او د لومړي لاس ماخذونو څخه استفاده شوې ده.

هره علمي مقاله او څېړنيزه پروژه يا هم يوه تحقيقي ليکنه خپل ځانګړې ارزښت او اهميت لري. د دې علمي مقالې ارزښت دا دی، چې کله موږ د خوشحال خان خټک په هکله بحث کوو؛ نو دا به موږ ته جوته شي، چې دې ستر شخصيت د نورو علمومو تر څنګ خپل فکر د ارواپوهنې او رواني حالاتو اړوند موضوعاتو په تړاو وصل کړی او د نوموړي دغه بيتونه د رواني شخص او هر انسان د درد درمل ګرځي او د هغه د زړه او روان لپاره غوره تسکين او دوا ده؛ نوهمدا يې اړتيا هم شوه او ارزښت يې هم پکې څرګند شو.

د دې علمي څېړنې په بشپړېدو سره، طبيعي ده چې ځينې بنسټيزې پوښتنې رامنځته کېږي، چې د موضوع د لا ژور درک لپاره مهم رول لري. له دغو پوښتنو څخه يوه اساسي پوښتنه دا ده چې: ايا د خوشحال خان خټک په اشعارو کې اروايي مفاهيم او د اروايوهنې اړوند موضوعات په شعوري او منظم ډول مطرح شوي دي، که يوازې ادبي او ذوقي انعکاس لري؟ د دې پوښتنې د ځواب لپاره، په دې څېړنه کې د خوشحال خان خټک د شعري متنونو تحليلي لوست ترسره شوی چې پکې د انسان د نفس، احساساتو، ارادې، وېرې، زړورتيا، مينې او کرکې په څېر رواني پديدې په دقت سره څېړل شوې دي. موندنې ښيي چې د هغه په اشعارو کې نه يوازې دا مفاهيم شته، بلکې ډېری وخت په داسې ژور او دقيق ډول بيان شوي چې د معاصرې اروايوهنې له بنسټيزو اصولو سره نږدې والی لري. دويمه مهمه پوښتنه دا ده چې: ايا د خوشحال خان خټک دغه اروايي نظريات د مشهورو اروايوهانو له نظرياتو سره ورته والی لري، که له هغوی سره په ټکر کې دي؟ د دې پوښتنې د ځواب لپاره، د هغه د افکارو مقايسوي تحليل د نړيوالو رواني نظريو سره ترسره شوي دي، په ځانګړي ډول د يو شمېر مشهورو اروايوهانو نظريات. پايلې څرګندوي چې که څه هم خوشحال خان خټک په کلاسيک او ادبي چوکاټ کې خپل افکار وړاندې کړي، خو په ډېرو مواردو کې يې ليدلوري د معاصرو رواني نظريو سره د پام وړ ورته والی لري. سره له دې، په ځينو برخو کې د هغه افکار د کلتوري، ټولنيزو او ارزښتي توپيرونو له امله له معاصرو نظريو سره اختلاف هم ښيي، چې دا خپله د هغه د فکري خپلواکۍ او ژور درک څرګندونه کوي. په ټوله کې، دا څېړنه دې پايلې ته رسېږي چې د خوشحال خان خټک اشعار نه يوازې ادبي ارزښت لري، بلکې د اروايوهنې له نظره هم د تحليل وړ غني مواد وړاندې کوي، چې کولای شي د ادبياتو او اروايوهنې ترمنځ د اړيکو په درک کې مهمه ونډه ولوبوي.

دغه علمي او تحقیقي مقاله چې لیکل شوې ده، تر دې سرلیک لاندې ما کومه علمي مقاله نه ده لیدلې، چې لیکل شوې به وي؛ خو د ( نابغه خوشحال، لومړی ټوک ) تر عنوان لاندې چې د مقالو ټولګه چاپ شوې؛ نو د ډاکتر کبیر ستوري یوه مقاله هلته شته، چې د ( خوشحال خان شخصیت د اروا پوهنې په رڼا کې) تر عنوان لاندې لیکل شوې ده. همدا ډول یوه بله لیکنه د سر محقق زلمي هېواد مل یو ناچاپ اثر د خوشحال خان خټک مفکورې نومېږي او دغه اثر په ماسټرۍ پروګرام کې تدرسېده؛ نو هلته هم یو لېکچر د خوشحال خان د سایکالوژۍ تر سر لیک لاندې شته ده؛ خو زما دغه مقاله له پورتنیو هغو دواړه سره توپیر لري. البته د سرچینې یا ماخذ په ډول مې هغه هم مطالعه کړې دي اود ماخذ په ډول د مقاله په متن کې ګټه ترې اخیستل شوې ده.

### ۲.د څېړنې اصلي موضوع او موندنې

دا علمي مقاله، د خوشحال خان خټک د شعرونو د اروایي شننې په تړاو بحث کوي؛ نو ښه به دا وي، چې لومړی په اروا پوهنې یا روانشناسۍ وغږېږم، بیا به د خوشحال خان خټک په هغو شعرونو باندې بحث وشي، چې له دې علم سره په اړیکه کې دي.

اروا پوهنه یا روانشناسي د انسان د ذهن، کړو وړو او احساساتو مطالعه ده. داعلم د انسان د ذهن د فعالیتونو، څارنې، درک، حافظې، زده کړې، شخصیت او نورو رواني اړخونو باندې څېړنه کوي. اروا پوهان هڅه کوي، چې انسان د فکري احساساتو له مخې درک کړي؛ نو دا علم د انسانانو د ستونزو د حل او ښه ژوند لپاره کارول کېږي.

اروا پوهنې ته په فرانسوي ژبه « پسکولوژي» او په انګرېزي ژبه « سایکالوجي» وایي. دا لغت د یوناني ژبې کلمه ده. پیسکه یا سایک د نفس یا روان په مانا او لوجي د ویلو او پېژندنې مانا ور کوي؛ نو اروا پوهنه هغه علم دی، چې د انسان د ذهن کړه وړه او احساس د بحث او مطالعې لاندې نیسي (احمدیار، ۱۳۹۴، ۷مخ).

د اروا پوهنې په تړاو مو لنډ او جاحع تعریفونه وکړل اوس به د خوشحال خان خټک د شعرونو یا بیتونو برخې ته راشم، چې هغه کوم څه ویلي؛ نو شننه او تحلیل یې دلته راوړم.

سر محقق زلمی هېواد مل لیکي « د خوشحال خان د مفکورو د ښوولو په سلسله کې د پښتنو د اجتماعي سایکالوجي په باب د خوشحال بیانونه هم راوړم. دا ډول مباحث په اروا پوهنه کې ښه ریښه لري او د اروا پوهنې په ګڼو څانګو کې یوه ټولنیزه اروا پوهنه یا اجتماعي سایکالوجي ده» ( هېوادمل، ۱۳۹۴، ۱مخ).

په ځینو انساني ټولنو کې ځینې ټولنیز معایب عام وي، د هغې ټولنې په فرد یا معدودو افرادو یا هم د ټولنې په یوې ځانګړې ډلې پورې تړاو نه لري، بلکې د جنس، سیمې، اجتماعي موقف، باسواد او بې سواد، لوستی، نالوستی، ټیټ او جګ پورې مربوط نه وي، بلکې د یوې ناروغۍ په توګه د هماغې ټولنې په ټولو افرادو کې لیدل کېږي، په استثنایي ډول د اړوندې ټولنیزې ټولنې ځینې خلک له دغسې اجتماعي عیوبو پاک وي. په پښتنو کې له دغسې عامو ناروغیو یا معایبو، د یو په تړاو یې خوشحال خان

ويلي دي، چې پښتانه ښه خوی نه لري. کله، چې يو يې وغواړي مخته لاړ شي، نور يې مخنيوی کوي او د هغه پرمختګ نه شي زغملی، تر دې پورې، چې په مرګ يې هم بسنه نه کوي.

پوهاند عبدالحی حبيبي يو ځای ليکي، چې خوشحال خان خټک د پښتنو ناروغي داسې تشخيص کړې وه، چې په تاريخ کې يې ډېر مظاهر ليده سي او د دوی د بدبختۍ او کښته والي علت العلل همدغه دی. خوشحال خان خټک په دې هکله داسې وايي:

پښتانه واړه بد خوی دي
کور په کور کاندي غورزی
يو چې سر کاندي په پورته
بل يې ووهي مغزی
(حبيبي، ۲۰۱۶، ۲۲۳مخ)

د همدې بيتونو په تړاو خوشحال خان خټک په خپل کلام کې د ستونزو د حل او د غليم سره ډغرې وهل يادوي او داسې وايي:

د مغل د سترګو ته يې
اې خوشحاله نن اغزی
(هېوادمل، ۱۳۹۴، ۱مخ)

دغسې ټولنيز عيبونه او ناروغۍ له بد نيتۍ، خصومت، عدم رواداری کينې او حسادت څخه سرچينه نيسي.

خوشحال خان خټک د حسد او کينې په تړاو وايي:

ښه سړی د چا په بدو نظر نه کا
که څوک بد ور سره کاندي دی به ښه کا

د جهان کينې، غصې واړه تر شا کا
که سړی پر وخت د قهر مرګ تر زړه کا
په کينه، په حسد هېڅ د چا ونه شي
هر سړی چې حسد کاندي ځان اوبه کا
(خټک، ۱۳۹۷، ۱۶۱مخ)

پورتنيو بيتونو ته که ښه ځير شو؛ نو د ښه انسان لپاره همدغه اوصاف غوره اولګو ګڼل کېږي. هر شخص که د دې نظم مطابق ځانګړنې ولري او په همدې خصوصياتو عيار وي، په رښتيني مانا به هم اوچت مسلمان، غوره، انسان او حتا عالي مومين به وي. ارواپوهان وايي، چې هر انسان په زړه کې له نورو سره کينه، عداوت، کدورت او حسد ولري، پر ځای د دې، چې هغه ته زيان واړه وي؛ بلکې ځان به يې خوار، فکر يې مغشوش، رواني حالت بد او خراب وي. ذهن يې په ډار او اضطراب کې وي.

کله چې د پورتنیو خویونو او عادتونو لرنکی شخص دمره پرېشان او نارام وي، ښه داده، چې نومړي عیبوب له فکر او ذهن څخه وباسي او د خوشحال خان همدا لارښوونه او سپارښتنه عملي کړي.

د ارواپوهنې د علم پوهان وايي، چې کدورت، بد نیتي، بد بیني، کینه او بخل د انسان په وجود کې د عقدو تخم شیندي او د رواني عقدو ودې ته زمینه مساعده وي او انسان په رواني ناروغیو او ټولنیزو عیبونو اخته کوي.

پوهاند ډاکتر سید بهاوالدین مجروح یو ځای لیکلي دي: « موږ همېشه اورېدلي دي چې د اخلاقو پېشوایانو د انسان ځینو صفاتو ته تل بد ویلي دي او نصیحتونه یې کړي دي، چې انسان باید له بغض، کینې، بخل، امساک، حسادت، جاه طلبي، ظلم، استبداد، حق تلفی څخه ځان وژغوري؛ مگر د انفرادي علم النفس له دې صفاتو ته یوازې بد ویل او نصیحت کول څه تاثیر نه لري او د اصلاح لاره یې دا نه ده. د علم النفس په نظر دا صفات د ځینو روحي امراضو او انحرافونو خارجي علایم دي. که اصلي مرض کشف نه شي او علاج یې ونه شي نو ظاهري علایمو ته بد ویل د کوم درد دپاره درمان نشي کېدای» (مجروح، ۱۳۹۴، ۹۰مخ).

د علم النفس د ماهرانو یا اروپوهانو له لوړو یادونو څخه څرگنده شوه، چې کوم ټولنیز عیبونه، چې خوشحال خان ختک ښوولي دي، دا روحي او رواني امراض او انحرافونه دي. له بده مرغه دا یو تریخ حقیقت باید ومنو، چې دغسې رواني او عقدیي ناروغی زموږ په پښتنو کې ښځې ډېرې دي. زموږ د ټولنې ډېرې خلک د خپلو خلکو خوښي، پرمختگ، سوکالي او نېکمرغي نشي زغملای. برعکس کله، چې خلک او په ځانگړې ډول نږدې دوستان او خپلوان یې په ستونزو، کړاوونو، دردنو، مصیبتونو سختیو، بدبختیو او آن په غم کې راگیر وي؛ نو دوی بیا خوښ او مسرور وي، چې دغسې حالت په اروپوهنه کې یوه ناروغي ده او د سادېزم په نوم یادېږي. که ووایو، چې زموږ په لوړه فیصدی وگړي د همدې ناروغی ښکار دي؛ نو مبالغه به هم نه وي. خوشحال خان ختک هم د همدې ناروغیو په وړاندې داسې نظر او مفکوره لري، چې وايي:

چې د خلکو نېک خواهي لري په زړه کې
مبارک شه باد شاهي لري په زړه کې
(حنیف، ۲۰۱۱، ۲۶۰مخ)

وگورئ، دی څومره په روحي لحاظ ځان او خلکو ته مثبت ډاډ، اطمینان او سکون ښیي، چې د انسان سره ښېگنه او ښه نیت د پاچاهی سره تشبه کوي، چې داسې حالت کې هر انسان له خوښیو سره مل ژوند لري. د همدې مفکورې په تړاو بیا بل ځای وايي:

واړه زړونه فراغت دي په ښادی کې
چې په غم کې مردانه شي زړه هغه
(ختک، ۲۰۰۹، ۱۱۶مخ).

په روحي او رواني لحاظ هر انسان، چې په سختی کې د بل وگړي یا شخص مرستندوی شي، بر علاوه د دې، چې هغه ته یې ښېگنه او خیر ورساوه، همدغه شخص، چې خدمتگار واقع شو؛ نو زړه یې

خوښ، او رواني حالت يې ښه او تازه وي او همدا رنګه په زړه کې داسې انګېري، چې يوه عظيمه ګټه يې کړې وي او لحظه په لحظه د خوشحالۍ احساس کوي. همدې مفکورې ته ورته رحمان بابا هم نظر لري هغه وايي:

هغه زړه به له طوفانه په امان وي
چې کشتۍ غوندې د خلکو بار بردار شي
ادم زاد په معنا واړه يو صورت دی
هر چې بل آزاره وي هغه آزار شي
(رحمان، ۱۳۸۴، ۳۷۳مخ)

که چېرې موږ د دغو دواړو نامتو شاعرانو افکارو ته دقت وکړو؛ نو د محتوا په لحاظ د مفکورو نږدېوالی يې زيات دی او دا دواړه شاعران په دې اند دي، چې د نورو سره ښېګنه، مرسته، لاسنوی، او خواخوږي انسان له هر ډول غم، خپګان، وېرې او رواني ستونزو او روحي فشارونو څخه ژغوري.

د خوشحال خان ختېك لاندې بيتونه هم د همداسې موضوعاتو پر محور را څرخي، چې په ټوله مانا انسان بايد د بل انسان د درد دوا، د روح سکون او د زړه قرار شي. خوشحال خان وايي:

په ښادۍ کې دې يې شکر سړی کاندي
په غمونو کې د صبر چار فرحت دی
چې له دوسته له دښمنه ښه سلوك کا
د هغو سړيو ښه زندګاني ده
د هغه قدر لرم تري به ځارېږم
چې په غم کې چاره جوی د بېچاره دی
(ختېك، ۲۰۰۹، ۱۳۷، ۱۳۸مخ)

په انساني ټولنه کې هر ډول وګړي شته او ژوند کوي، د بېلګې په ډول ښه، مهربانه، زړه سواندي او د نرم زړه لرونکي، همداسې برعکس شرير، سخت زړي، ظالم، ستمګر او وېره ونکي. د داسې انسانانو په منځ کې به متوسطه ډله هم وي، چې ځيني خويونه او عادتونه به يې د لومړۍ ډلې او ځيني هغه به يې د وروستۍ ډلې وي. په لږه پيمانه داسې انسانان هم شته، چې د نورو په راحتولو يا د هغوی په سوکالۍ کې دوی خوښ او ډاډمن وي او تر دې، چې ډېر کله به داسې هم پېښ شي، چې يو کس لا خبر هم نه وي؛ مګر دوی ورته د خدمت ملې رانغښتې وي، په داسې چوپړ کې بيا په واقعيي ډول سکون او خوښي وي، خوشحال خان هم همدغسې کړنې تر سره کول غواړي.

اروا پوهنه په دې ټينګار کوي، چې درد، خپګان، اندېښنه او غم بايد ووېشل شي، هدف دا دی، چې په زړه او دماغ کې دغسې رواني حالت يا تشويش ته ځای ور نه کړای شي، همدې موضوع ته په اشارې، خوشحال خان ختېك څه باندې درې سوه کاله پخوا متوجه شوی دی هغه داسې ليکي:

غم په زړه کې بد غليم دی
ځو توانېږې خواره وه يې

یا تېره توره را واخله
څو چې وي همواره وه یې
یا غم خور چېرې پیدا کړه
ورته کښېنه ښکاره وه یې
یا فریاد فریاد فریاد کړه
ژاړه تار په تاره وه یې
یا خوشحال غوندې زړه راوړه
ځای یې کړه انباره وه یې
(ختک، ۱۳۹۷، ۸۱۹مخ).

د خوشحال خان خټک پورتني کلام ته، چې ښه په دقت نظر وکړو، د نننۍ ارواپوهنې سره په پوره مانا او همغږي یوشان والی او مطابقت لري. د ارواپوهنې علم وایي هر وخت، چې انسان په درد، غم او مصیبت کې وي؛ نو لازمه ده، چې ځانته یو همراز یا همدم پیدا کړي، د خپل د زړه راز وسره شریک کړي او ټول حقایق ورته بیان کړي. دغه کړنه د هغه کس زړه ته سکون او ارامښت ور کوي او که چېرې داسې ونه کړي؛ نو لا به ځان زهیر او غمجن کړي. د خوشحال خان د فکر اړوند ارواپوهنه زیاتوي، چې انسان کله په ستونزو او دردونو کې ایسار وي؛ نو باید د خپل غم او درد د کموالي لپاره په زوره، زوره وژاړي او د همدې ژړا په وسیله به یې زړه سپک او غم به یې کم شي. خوشحال خان خټک، چې د خپل وخت او مهال یوه پوخې او سیاسي څېره وه؛ د غم د خورولو لپاره یې لومړی دا اړینه ګڼلې، چې غم باید له زړه وشړل شي او ورته تسلیم نه شي. په دویم قدم کې سپارښتنه کوي، چې د تېرې تورې په زور یې هموار کړه. توره یې؛ ځکه یاده کړې، چې د ده ژوند له تورې سر مل و؛ نو باید همداسې ووایي او که دا نه شې کولای بیا نو ځانته همراز ولټوه، چې دا چاره هم درسره مرسته کوي او غم دې نیمګړی کېږي. د دې تر څنګ د زړه او دماغ د ارامولو لپاره یې ژړا هم ښه وسیله ګڼلې او که دا ټول توکي درته نا ممکن او ستونزمن وي بیا یې؛ نو د خپل د قوي زړه په څېره مشوره ارایه کړېده، چې درد، غم، خپګان، ستونزې، کړاوونه او بدبختۍ، چې درته راغلي او درته مخه یې کړه بیا؛ نو غټ زړه ولره، پکې ځای یې کړه، ځان ورسره عادت کړه، غیرت مه بایله او د همدې ستونزو په وړاندې مبارزه وکړه. ورته مه تسلیمېږه او چې دا ټول دې له منځه نه وي وړي ارام او سکون هم نشته.

همدا رنګه که یو انسان د خوښۍ او کامیابۍ خبره هم په زړه کې ولري، تر هغې پورې چې دغه د خوشحالۍ خبره چاته ونه وایي یا همدا د خوښۍ راز چا سره شریک نه کړي؛ نو زړه یې قرار نه لري او له یو ډول هیجان سره به مل وي، کله چې همدغه د زړه خبره یا پټ راز له خپل نږدې دوست یا همراز سره شریک کړي بیا یې زړه او فکر ارام او راحت مومي؛ نو ارواپوهنه هم په همدې ټینګار کوي، چې د ښه همراز لرل، چې د راز د ساتلو هنر یې زده وي ډېر مهم دی.

په ټولنیز ژوند کې که چېرې ښه دقت وکړو؛ مورږ دوه ډوله انسانان ډېر وینو، لومړی هغه کسان، چې لوړه پوهه، اوچت درک، مهرباني، عاطفه، لورینه او ژور احساس لري. دویم هغه ډله انسانان دي، چې

يوازي خوري، ځکي او د ځان په فکر کې دي، نور نه احساس، لري، نه هم پورته اوصاف. د لومړۍ ډلې اشخاص نظر دويمې طبقې ته ډېر زجر ويني، د نورو لپاره هم ځان زهيره وي. همدغه موضوع خوشحال خان خټک په يو بيت کې داسې وړاندې کوي:

راشه لېونی شه! چې د نور خلك غم خور شي
ځو چې هوښياري کړې، غم به لا در باندې زور شي
(خټک، ۱۳۹۷، ۶۵۰مخ).

بله مهمه خبره داده، چې انسان د هرې ستونزې، درد او خپگان په حالت کې خپله روحيه او ډاډ ونه بايلي او هيله من و اوسي. د اروپوهنې په کتابونو کې راځي: «هيله مند اوسئ، چې تاسې به ښه کېږئ، خپل زړه ډاډه وساتئ او د بې ځايه اندېښنو لاس په سر شئ، ښه فکر وکړئ، چې ځنگه ډاډ تر لاسه کولی شئ.» (حيران، ۱۳۹۵، ۵۲مخ)

د اسلام مبارک دين هم خپلو پيروانو ته د درد او غم په حالت کې د صبر او تحمل توسيه کوي او هر درد او غم، چې راځي هغه د الله تعالی له طرفه گڼل کېږي، انسانان او په ځانگړې ډول مسلمانان بايد صبر، زغم اوحوصله ولري. همدا رنگه مسلمان بايد په دې دنيا کې د صبر او زغم تر څنگ قناعت هم ولري. کله، چې انسان ډېر حريص نه وي او قانع وي، د هغه ژوند به بې له تکلفه او ښه روان وي. د همدې موضوع په هکله خوشحال خان خټک داسې فرمايي:

چې سړی له غمه خلاص کا
هغه څه دی قناعت دی
(خټک، ۲۰۰۹، ۱۳۸مخ).

په پورته بيت کې په واضح ډول ويل شوي، چې قناعت انسان له غمه او وېرې څخه خلاصوي. هر کله چې انسان د ډېرو شتو په لټه کې وي او په لاس يې هم نه شي راوړی؛ نو همدا د دې لامل کېږي، چې په درد، تشويش، اندېښنې او غم مبتلا شي، د دې مرض ښه دوا همدا قناعت دی او بس. خوشحال خان، د خپل قناعت په لرلو سره دمره ځان مطمين گڼي، چې د ځمکې او سمندرونو له پاچاه سره ځان يو شان گڼي هغه وايي:

چې قانع د زمانې په خشک وتر يم
که مې پېژنې باد شاه د بحرو بر يم
(حنيف، ۲۰۱۱، ۳۴۹مخ).

رحمان بابا، چې هم د خوشحال خان همعصره و او هم په خپله برخه باندې قانع و په همدې فکر او نظر دی رحمن بابا داسې وايي:

قناعت مې تر خرقې لاندې اطلس دی
پټ د درست جهان باد شاه ظاهر گدا يم
(رحمان، ۱۳۸۴، ۲۱۶مخ)

تر دې ځايه مو د خوشحال خان خټک په شعرونو کې د اروايي ناروغيو او ستونزو په تړاو بحث وکړ، د همدې موضوع د غزونې په پار به لږ نور هم مخ ته لاړ شو او د اروا پوهنې له نظره به د خوشحال خان اشعار له يوې بلې زاويې څخه وشنم. اجمل پسرلی د (ښايست، اروا پوهنه او خوشال) تر سرليک لاندې داسې ليکي: « له اتلسمې پيړۍ را وروسته ښايست ته تر ډېره د اروا پوهنې له نظره وکتل شول. د روانشناسي له مخې رواني او اجتماعی عوامل پر انسان ژور اغېز شيندي چې دغه تاثير د ښايست درک متاثره کوي.

امريکايي عالم جورج ډيويډ بيرکهوف په دې باور دی هر هغه څه ښکلی دی چې تناسب په کې ډېر وي يعنې په لږو علامو زيات تناسب موجود وي. دغه نظر په يو ډول د خوشحال په دې بيت کې موندلی شو چې پکې د معشوقې خال د يوې عشقي صحنې نظم جوړ کړی دی:

د مخ خال يې تور تارو دی په گلزار کې
د زړه باز مې دی نظر پسې وا کړی

د بيرکهوف په نظر ښکلا يوازې د نظم له لارې نشو تر لاسه کولی، دی وايي چې ښايست د دو متضادو صفتونو نتيجه ده، داسې صفتونه چې دواړو ته په يوه اندازه اړتيا شته.

لکه د خوشحال خان خټک په پورتني بيت کې يې چې تور خال په سپين مخ کې تور دی، تور تارو په توروالي کې دی، په دواړو پسې سترگې اوښتې دي او دواړو ته ضرورت شته» (پسرلی، ۱۳۹۷، ۲۶مخ).

يو شمېر اروا پوهان بيا وايي، چې ښايست مينه جذبوي. د اروا پوهنې له مخې د انسان تخيل د يوه ښايست په لټه کې دی، چې تر لاسه يې کړي. ځينې په دې نظر دي، چې کله ښايست تر لاسه شي مينه ور سره کمه شي.

معاصر امريکايي اروا پوه زيک روبين دا نظر لري، چې ځينې وخت يو څوک موږ ستايو؛ نو زموږ خوښېږي، چې له هغې سره وخت تېر کړو او له هغې سره واوسو؛ خو دا گرانښت دی او مينه نه ده. د روبين په نظر د گرانښت او مينې توپير دا دی، چې په گرانښت کې دې يو شی خوښېږي او په مينه کې خبره لورينې ته رسېږي. خوشحال خان د مينې او ښايست په اړه وايي:

يا حسن دی، يا عشق دی د دنيا په دا بازار کې
په ناز او په نياز سره دا دواړه سودا کېږي
(پسرلی، ۱۳۹۷، ۲۸مخ).

د اروا پوه روبين په باور مينه له درېو عناصرو جوړه ده، چې پرې مين يا مېينې پام وکړئ، له هغې سره هم نظره شئ، ور سره په تماس کې شئ.

د خوشحال خان شعرونو ته چې گورو پکار و، چې درې، څلور پېړۍ را وروسته مو اوس شعر دمره سپينې خبرې لرلی لکه اروپايي شعرونه يې چې نن سبا لري. په دې برخه کې زموږ په شعر کې پرمختگ څه، چې په شا تگ شوی دی د ښکلا او ښايست په تړاو او هم د خوشحال خان په شان ښکاره خبرې زموږ شاعر نه شي کولی.

وې مې چې په څو رنګه خوشحال پر تا مېين دی
وې يې د ختټک سړي د مينې څه ثنا کړې
(پسرلی، ۱۳۹۷، ۳۰مخ).

په دې علمي مقاله کې چې کوم موضوعات دلته څېړل او تشریح شوي دي، ټول یې د ارواپوهنې یا هم د روانشناسي سره په ارتباط کې بیان او تحلیل شوي دي. یوه بله اهمه او ضروري موضوع هم باید وسپړل شي، چې هغه د شخصیت موضوع ده او دا په اروپوهنه کې خپل ځانګړی ځای او اهمیت لري.

فروید چې د اروپوهنې نامتو عالم دی هغه وایی: «د شخصیت په باره کې یو بدیهي حقیقت دا دی چې شخصیت تل تغیر او تکامل کوي، خو دغه تکامل په کوچنیوالي، ماشومتوب او زلمکیتوب کې زیات وي. ایګو په ساختماني لحاظ لا جوتېږي او په ډینامیک لحاظ هم پر غریزي انرژۍ خپل کنټرول وار په وار زیاتوي. ورو ورو د سلوک مختلفي نمونې رامنځته کېږي. د وګړي مطلوبې موضوع ګانې د مختلفو علایقو او رنګارنګو تړلتیاوو په بڼه را څرګندېږي.د ادراک، حافظې او تفکر اروايي بهیرونه وده کوي.» (زغم، ۲۰۱۸، ۷۵مخ).

د شخصیت په تړاو، چې زیګموند فروید کوم نظري لري، دا د اروپوهنې سره پوره اړخ لګوي. د همدې موضوع د لا وضاحت لپاره یو څه نور هم ورباندې بحث کوم. د اروپوهنې له نظره شخصیت هماغه څیز دی، چې ساه لري. یو بل ځای بیا داسې لولو: « د سایکولوژي پوهان، چې د پېړیو پېړیو را په دې خوا د شخصیت په څېړنه او پېژندنه لګیا دي هغوی اوس هم په دې سره اتفاق پیدا کړی دي، چې د اروايي او جسمي ښکلا لرونکی شخص یو نه شخصیت دی.»
(ساپي، ۱۳۸۵، ۲۷۸مخ).

په عمومي ډول، چې د شخصیت په تړاو کوم بحث وشو، اوس به د خوشحال خان خټک شخصیت د اروپوهنې سره په ارتباط کې وڅېړو. ډاکټر کبیر ستوری د (خوشحال خان شخصیت د اروپوهنې په رڼا کې) لیکي: « په اروپوهنه کې د انسان د شخصیت د اړخونو د معلومولو لپاره مختلفې تلې او لارې (طریقې یا مېتودونه) شته دي. موږ د رول د راسپړېدلو (تحلیل) په لاره د خوشحال خان د سړیتوب لړونه را په ګوته کوو.» (ستوری، ۱۳۹۷، ۸۱۷مخ).

د خوشحال خان بیا د شخصیت او سړیتوب معیارونه لري، چې یو هم د هغه په وینا د یو مشر، سردار، لیډر او رهبر لپاره کوم څه ډېر مهم دي په لومړي سر کې پګړۍ یا دستار ښیي، چې د همدې موضوع په تړاو یې دستار نامه لیکلې او ټول هغه څه یې پکې بیان کړي، چې هغه لازم او ضرور دي. خوشحال خان خټک وایي:

چې دستار تړي هزار دي
د دستار سړي په شمار دي
(خټک، ۲۰۰۵، ۱مخ).

د خوشحال خان په اند هغه شخص د دستار وړ دی، چې هغه رښتینی، مهربان، زړه ور، حلیم، غیرتي، ننګیالی، مېړني، تورزن، سخاوتمن، ښښونکی، او عالم وي. دغه ځانګړنې، چې کله مشر، سردار

او منصبدار کې وي، هغه د دستار وړ دی. که پورتني صفات په شخص کې نه وي؛ نو هغه سرونو به دستار ولري، خو د اهلیت او قابلیت له مخې نه. د مشر لپاره ښه خوی او اخلاق هم ضرور کښې.

داسې هم ویل کېږي، چې انسانان په ټولیز ډول د دوه ډوله شخصیت لرونکي دي، مثبت او منفي شخصیت. دا، چې د مثبت شخصیت ځانګړنې کومې او د منفي هغې کومې دي، په کلي ډول نه شو ویلای؛ ځکه چې د نړۍ په سطحه د اخلاقو معیارونه، مذهبي او سنتي کړنې او مقدسات بېلابېل دي؛ موږ به د خپلې ټولنې، دین، مذهب، کلتور او فرهنګ په نظر کې ونیسو. کله، چې بحث د خپل هېواد او جغرافیې په نظر کې نیولو سره وغزو؛ نو په مثبت شخصیت کې ( ښه والی، رښتینولي، مېړانه، شجاعت، ورکړه، لورینه، صداقت او نور راځي) په منفي شخصیت کې بیا همدا ښې ځانګړنې نه شته او برعکس ټول ناوړه او بد عیبونه پکې شامل دي. که په صادقانه ډول ووایو، موږ تل خپل مثبت شخصیت په ټولنه کې نورو ته ښکاره کوو او منفي هغه بیا یوازې ځان سره ساتو، په هېڅ ډول نه غواړو، چې نور دې زموږ د منفي کرکټر او کردار څخه آګا او یا هم خبر شي. خوشحال خان خټک هغه انسان او شخصیت و، چې هم یې خپل مثبت شخصیت ښکاره کړی او هم یې خپل منفي. تر دې چې لا پر ځان یې تند انتقادونه هم کړي دي. ځینې وایي، چې خوشحال خان څو بعدي شخصیت و؛ خو ځینې کسان بیا پر خوشحال خان باندې کلکې نیوکې کوي، چې هغه وروسته له زندان نه اتل او مېړنی دی او مخکې له بند څخه د ښه شخصیت او عالي کرکټر خاوند نه و؛ ځکه دی د مغولو پلوی و د هغو لپاره یې توره وهلې او پښتانه یې د مغولي اقتدار د پایښت لپاره وژلي، رټلي او سرکوب کړي یې دي. د همدې نیوکې په ځواب کې محمد صدیق روهي لیکي: « ځینې کسان پر خوشحال باندې انتقاد کوي، چې ده په لومړي سر کې د ګورګانیانو پلوي کوله؛ خو کله چې د اورنګزېب له خوا بندي خپل فکر ته یې تغیر ورکړ او بیا یې وروسته د ګورګانیانو پر ضد مبارزه پیل کړه په دې برخه کې باید دمره وویل شي، چې هېڅوک د مور له ګېډې نه عالم، فیلسوف او سیاستمدار نه زېږېږي؛ بلکې ټولنیز شرایط (لکه روزنه، طبقاتي او اجتماعي موقف، د ژوند پېښې، ناسته ولاړه، د شعور سطحه او نور) د انسان پر شخصیت باندې اغېز کوي. د نړۍ یو زیات شمېر انقلابیون د لومړۍ ورځې څخه انقلابیون نړۍ ته نه دي راغلي؛ خو هر وخت چې دوی سمه لاره پیدا کړې ده له هماغه وخته د کرېډېټ مستحق دي.» (روهي، ۱۳۸۶، ۲۸۶مخ).

د انتقاد او نیوکې څخه هېڅ کس او شخص مبرا نه دی او پر خوشحال خان باندې چې کومې نیوکې شوې دي، هغه د نورو په شان انسان و او له هر فرد ځنې سهوه او خطا کېږي.

د خوشحال خان خټک د شخصیت په باب، چې کوم څه ډېر مهم او ځرګند دي هغه د خوشحال خان صداقت، ایمان او رښتینولي ده؛ نو خوشحال خان د خپلو تېروتنو، سهوې او اشتباه په تړاو تر ټولو لومړی خپله پر خپل ځان انتقاد کوي او ځان ملامت بولي. دی په څومره څرګند ډول وایي:

د مغول نمک مې وخوړ شپېږ پېړۍ
ما د زړو پکې روغې کړې ببړۍ
د مغول لپاره ما توري وهلي

پښتنو به راته کړي ډېري کنځلې

(یون، ۱۳۸۷، ۶۹مخ).

د همدې بحث په تړاو بل ځای بیا داسې وايي:

پښتانه مې په زرګونو دي وژلي

په سرونو به يې خره غوايي وو لښلي

دا پوهېږم چې مغول لره که ورشم

بسې شا به حرام خور ګدی ښکانځه شم

په ورتله به بيا خدمت را څخه غواړي

پښتانه چې سره وژنو ديو پرې وياړي

(هېوادمل، ۱۳۸۰، ۲۸۴مخ).

دلته خوشحال خان هم پر ځان نيوکه کوي او هم ځان ګرم بولي؛ خو د همدې سهوې د جبران لپاره د منصب وړانديز نه مني او بيا له مغولو سره نه يو ځای کېږي بلکې خپل موقف او شخصيت لوړ ساتي د قدرت او مال په مينه کې نه ايسارېږي او د پښتون لپاره خدمت ځان ته وياړ ګڼي. خوشحال خان خټک وايي:

نن د واړو پښتنو په ننګ ولاړ يم

دا چې هسې په هر در، هر درنګ ولاړ يم

(روهي، ۱۳۸٦، ۲۸۷مخ)

د همدې بيتونو په تړاو بايد يادونه وکړم، چې خوشحال خان خټک د يو عالي او اوچت شخصيت څخه برخه من و؛ ځکه دی يو رښتينی انسان دی، چې د خپل عيب او نيمګړتياوې نه پټوي، ځان ګرم بولي او پر ځان کلک انتقاد هم کوي. ، داسې يوه عمومي او مهمه وينا ده، چې وايي: « د خپلې غلطۍ منل د نه سهوه کېدو مانا لري.» دا چې د غلطيو سر بېره بيا هم خپله اشتباه انسان ونه مني، هغه بيا نه جبرانېدونکې ګناه او خطا ده، چې په په دې برخه کې بيا خوشحال خان له دې حکم څخه پاک او صيقل شوی دی. اروپوهنه هم په دې ټينګار کوي، چې کله انسان صادق او سپين ګوی وي، دهغه زړه له کينې او حسد څخه خلاصېږي.

**۳.مناقشه**

د دې علمي مقالې په تړاو، چې کومه څېړنه تر سره شوه؛ نو دا موندنې په لاس راغلې، چې د خوشحال خان خټک د شعرونو برخه بېلابېلو مفکور باندې را څرخي. د خوشحال خان په اشعارو کې يوازې، مينه، توره، سياست، ښکار، اخلاق، ټولنيزه برخه نه ده راغلې؛ بلکې دی په خپلو شعرونو کې د انسانانو اروايي ستونزو، ناروغيو او کړاوونو ته هم ملتفت او متوجه شوی دی. اروايي يا رواني ستونزې يې په شکل د اشکالو راخيستې، هغه يې بيان کړې دي او د حل لارې يې هم ورته ښوولې او لټه ولې دي.

د خوشحال خان ختټک د ارواپوهنې په تړاو یوه مقاله او دوه لیکنې مې ولوستلې. لومړی مقاله د ډاکتر کبیر ستوري ده، چې ( خوشحال شخصیت د اروپوهنې په رڼا کې) تر سرلیک لاندې بشپړه شوې ده. دویمه لیکنه د سر محقق زلمي هېوادمل ده، چې د ( خوشحال خان مفکورې) تر عنوان لاندې لیکل شوې او وروستۍ هغه د اجمل پسرلي ده، چې د ( ښایست، اروپوهنه او خوشحال) پر موضوع را څرخي. دا واړه موضوع ګانې د خوشحال خان او اروپوهنې په یو ځانګړې مبحث را چورلي؛ خو د خوشحال خان ختټک د شعرونو د اروایي شننې تر سرلیک لاندې، چې دا علمي مقاله لیکل شوې ده له هغو سره یې بېلوالی او توپیر په دې کې دی، چې لومړی په اروپوهنه باندې علمي بحث شوی، بیا د خوشحال خان په شعرونو کې هغه برخه ځانګړې شوې ده، چې له اروپوهنې یا هم له روانشناسی سره تر ډېره بریده اړخ لګوي او همدې موضوع باندې شننه او سپړنه شوې ده.

په پښتو ژبه کې د اروپوهنې مواد او کتابونه ډېر کم دي. له څېړنکو او لیکوالو څخه دا تمه ده، چې یا په دغه برخه کې تحقیق او لیکنې وکړي او یا هم له نړۍ والو ژبو څخه مهم او ګټور اثار پښتو ته را وژباړي. بله غوښتنه یا وړاندیز مې د پښتو ژبې او ادب مینه والو، لیکوالو او ادبپالو ته متوجه ده، چې د هغو شاعرانو او لیکوالو په اثارو او افکارو کې، چې د اروپوهنې اړوند معلومات او مطالب وي هغه را غونډ کړي، ویې سپړي او څېړنه ورباندې وکړي.

## ۴.پایله

اروپوهنه یا هم سایکالوجي د معاصرې ټولنې یا اجتماع لپاره یو بنسټیز او مهم علم بلل کېږي، چې په دې علم کې د انسان د فردي هوساینې، ژوند، روغتیا او خوښۍ په برابرولو کې مهم رول لري. یا هم اروپوهنه او روانشناسي د انسان د باطن او ظاهر د اړیکو اهم او حیاتي علم دی.

خوشحال خان ختټک د پښتو ادبیاتو د کلاسیکې دورې یو مهم شاعر لیکوال او فرهنګي شخصیت دی، چې د ده په کلام کې د ډول ډول سوژو، مطالبو، موضوع ګانو، او مفکورو بیان شوی دی. په دې موضوعاتو کې یو هم د ده په شعرونو کې یې اروایي برخه ده. دغه برخه په دې مقاله کې تشریح شوې ده. هغه بیتونه تحلیل او سپړل شوي، په کومو کې چې اروایي ستونزو ته اشاره شوې ده. هغه مشکلات د اوسنۍ اروپوهنې سره په ارتباط کې څېړل شوې دي، بېلګې یې ښوول شوې دي او هم کومې ستونزې، چې موجودې دي د هغو حل لارې هم ښودل شوې دي. په لنډ ډول باید ووایم، چې د خوشحال خان ختټک اروایي برخه د معاصرې نړۍ د اروپوهنې سره که سل په سلو کې همغږي نه لري؛ نو په لوړه فیصدۍ یې د منلو وړ ګڼلی شو او دا له هغو شعرونو څخه ښکاري، چې په همدې مقاله کې لوړ بیان شول او د اروپوهنې د علم په رڼا کې تر بحث، مطالعې او څېړنې لاندې راوړل شول.

## ۵.ماخذونه


احمد یار، ظریف الله.(۱۳۹۴ش). روانشناسي عمومي.( چاپ سوم). انتشارات الازهر.

پسرلی، اجمل.(۱۳۹۷ل). ښکلا د خوشحال په غزل کې. جلال اباد: ختیځ خپرندویه ټولنه.

حبيبي، عبدالحی.(۲۰۱٦). د خوشحال خان خټک د جهانداری نظریه. پښتو نړۍ واله مرکه. سریزه او ترتيب صادق ژړک.

حنيف، خليل.(۲۰۱۱). د پښتو نوې شاعري. پېښور: يونيورسټي پبلشرز.

حيران، محمد حنيف.(۱۳۹۵ل). د ځوان او خوښ اوسېدلو هنر. جلال اباد: مومند خپرندويه ټولنه.

خټک، خوشحال خان.(۱۳۹۷ل). د خوشحال خان خټک دېوان. سهر مطبعه درېيم پروان: کشف، سريزه، ترتيب او سمون حبيب الله رفيع.

خټک، خوشحال خان.(۱۳۹۷ل). د خوشحال خان خټک کليات( منظوم، منثور). جلال اباد: ميهن خپرندويه ټولنه. سريزه، تدوين او وييپانګه، سيد محی الدين هاشمي.

خټک، خوشحال خان.(۲۰۰۵). دستار نامه. پېښور: يونيوسټي. تحقيق، سمونه او حاشئي. يار محمد مغموم خټک.

خټک، خوشحال خان.(۲۰۰۹). ارمغان خوشحال. لاهور: زاهد بشير پرېس، يونيورسټي بک ايجنسي. مقدمه، سيد رسول رسا.

رحمان بابا.( ۱۳۸۴ل). د رحمان بابا کليات. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه. سريزه، يادښتونه او وييپانګه: حنيف خليل.

روهي، محمد صديق.(۱۳۸٦ل). ادبي څېړني. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

ساپی، رحمن الدين.(۱۳۸۵ل). د سرو زرو نه لا هم ښه يا د لوړ شخصيت معيارونه. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

ستوری، کبير.(۱۳۹۷ل). خوشحال شخصيت د ارواپوهنې په رڼا کې.( نابغه خوشحال، د مقالو ټولګه). کابل: بهير مطبعه. چاپ زيار: لعل پاچا ازمون.

مجروح، سيد بهاوالدين.(۱۳۹۴ل). د جبر او اختيار ډيالکټيک. کابل: سينا مطبعه.

هال، کالوين اس.(۲۰۱۸). د فرويډ ارواپوهنه. ژباړونکی: محب الله زغم.

هېوادمل، زلمي.(۱۳۹۴ل). د خوشحال خان مفکورې( ناچاپ). د کابل پوهنتون د ماسټرۍ پروګرام درسي چپټر.

هېوادمل، زلمی.(۱۳۸۰ل). ننګيالی د زمانې. د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ـ جرمني.

يون، محمد اسماعيل.(۱۳۸۷ل). انديال خوشحال. يون کلتوري يون.